# د عالمه عبدالعلي اخونزاده د شاعرى هر اړخيزه جائزه

## (Multilateral Analysis of Abdul Ali Akhunzada's Poetry)

Hafeez Ur Rehman Dauran [1]Dr.Mohammad Farooq[2]

## ABSTRACT

*Allama Abdul Ali Akhunzada is one of leading contemporary poets as well as a Prose Writer of Pashto. Though he is a Pashto poet yet he has written Percian Poetry as well. His poetry has many salient features. It is decorated with figures of speech like similie and metaphor. His language is not only eloquent but also strenuous. It has a fluency and spontaneous too. Persian and Arabic words are also found in his poetry but yet the diction never feels to be so complicated and difficult.In this article the authors have strived to analyse the poetry of Allama sb. In addition this article will study to explore his contibutions for the development of Pashto language and literature.*

[1] Senior Instructor, Department of Pakistani Languages, National University of Modern Languages, Islamabad
[2] Assistant Professor, Department of Pakistani Languages, National University of Modern Languages, Islamabad

په هر دور کښې عظیم شاعران پیدا شوي دي ، په دې کښې یو نوم د شلمې مېلادي صدۍ دعلامه عبدالعلي اخوندزاده هم دے. هغه د شعر او ادب په مېدان کښې دخپلو لوړواو ژورو افکارو له کبله لویه نامه لري که څه هم د هغه شخصیت ډېر اړخونه لري - هغه یو ډېر لوئ عالم، ادیب، مفکر، شاعر،مبارز، قاضي، اولسي مشر،طبیب او سیاستمدار ؤاودڅ وند په هر ډګر کښې ئې خدمات تر سره کړي دي. خو دلته دا هڅه شوې ده چي صرف دعلامه صاحب شاعري د بحث لاندي راوستے شي. ولي چي مونږ ته د علامه صاحب هر څومره تعلیمات چي را رسېدلي دي هغه د شاعرۍ له لاري را غلي دي. مخکښې تردې چي دعلامه صاحب د شاعرۍ په حقله بحث وکړو،پکا رده چې د هغه په ژوند سرسري نظر واچوؤ.

د علامه صېب د ژوند په حقله د پښتو ژبې لوئ شاعر حافظ خان محمد داسي وایي:

,,علامه عبدالعلي اخونزاده په ۲۷۸۱ مېلادي کال کښې د خانوزی ‹ضلع پښين› په يوه علمي کورنۍ کښې زېږېدلی دی چې د پلار نوم ئې مولوي عبدالخالق اخوندزاده ؤ. لومړی زده کړې ئې د خپل پلار او اکا څخه وکړې وروسته کندهار ته ولاړ. د نورو زده کړو دپاره ئې د ترکي، سري لنکا او هندوستان ته سفرونه کړي ؤ. دۀ له ديني علومو سره سره پر عصري علومو هم عبور درلود.،،(۱)

د علامه صاحب د مړينې نېټه د ده په ديوان کښې داسې ليکلې ده:

,,علامه صاحب د اکتوبر پر څلورمه نېټه په ۴۴۹۱ مېلادي کال بمطابق ۶۱م شوال ۴۲۳۱ هجري قمري کښې د چهار شنبې په ورځ په حق ورسېدی.،،(۲)

ددې نه دا اندازه لګي چې هغه په يومذهبي او په عصري علو مو با ند ې منو ره درنه کورنۍ کښې سترګې غړولې وې اوبيا د خپل شوق د خاطره دنور علم په طلب کښې ئې تر لرې لرې سفرې هم کړې وې . دکلام نه ئې هم دا خو بې ښکاره په نظر راځي چې هغه يوغټ عالم فاضل شخصيت وواو دديني علومو سره سره ددنياوي علومو نه هم ښه خبر ووځکه ئې کلام په هر رنګه هنرونو برابر دے علامه صاحب يو شمېر د نظم و نثر کتابونه ليکلي دي چې د ځينو نومونه په دې ډول دي:

,,پښتو عربي لغت، مخزن المفردات، الافغان، آئينه حقيقت نما ، فيصله آسماني، ديوان بېدل شرح، شاخ ګل، د علامه عبدالعلي اخوندزاده ديوان .،، )۳(

په دې کتابونو کښې مونږ اوس متاسفانه صرف د علامه صاحب ديوان په چاپ شوي بڼه کښې لرو. د دۀ زياتره کتابونه يا د زمانې سېلابونو وړي دي او يا ترا وسه پورې د چاپ لاره څاري .هغه په پښتو، فارسي او عربي ژبوکښې تخليقات کړي دي. خودې سره سره يې د نورو ژبونه د ځنوکتابونوچې يو پکښې دتبريزي ديوان هم وو,ترجمې په پښتوکښې کړي دي خو د بده مرغه دا لاتراوسه زمونږ په واك کښې نشته - نامتو سياستمدار او په پښتو مئين ليکوال خان عبدالصمد خان شهيد ددې ذکر په دې ټکو کوي:

,, اخوندزاده صاحب د صاحب تبريزي ديوان په پښتو ژباړل پېل کړی ؤ خو وروسته ئې درک ونه

لګېدی چې هغه کتاب څۀ شو؟،، )۴(

علامه صاحب له نظم سره سره په نثر کښې هم کارکړے دے خومتاسفانه مونږدده يونثرهم په ليکلي بڼه کښې نه لرو.دسهېلي پښتونخوا نوموړی فولکلورسټ ابوالخير ځلاند د دې خبرې تصديق داسې کوي:

"وئيل کېږي چې علامه صاحب په عربي او فارسي کښې ۱: پر خلافت و سياست ۲: عادات و بدعات باندې مقالې کښلې وې چې هغه د زمانې د بې قدرۍ له لاسه ضائع شولې". )۵(

**شاعري:**

علامه صاحب د پښتو ژبې ډېر لوے شاعر ګڼلے شي او په ټوله پښتونخوا کښې د شاعر په حېث شهرت لري. قاضي عبدالسلام بابا چې يو ډېر لوے عالم ، په وطن مئين شاعر وو، او د علامه صېب قدردان وو، د علامه صېب په حقله د شعر په ژبه داسې وايي:

خوشحال خان په ټول تر ټولو خټک دروند دی

هم عبدالعلي پر واړه کاکړي بس (۶)

د دې نه دا معلومېږي چې لکه څنګه حيثيت چې خوشحال خان بابا په خټکو کښې لرلو هم دغه درجه عبدالعلي اخوندزاده ته په کاکړو کښې تر لاسه وه.

ملا صالح محمد برېڅے چې د قرآن مجيد د سوره ياسين منظومه ترجمه يې په فارسي کښې کړې وه، د علامه صاحب د شعري صلاحيت صفت يې په دې ټکو کړے دے:

آخره زمانه سوه هر سرې کړې شاعری

کامل يو نه وينمه مګر يو عبدالعلي (۷)

د علامه صاحب يو بل هم عصر مولوي قلندر د ده په حقله داسې وائي:

عبدالعلي مخلص عبدالسلام و عبدالله

دا نور مې خوښه چين دي قلندر وايمه دا (۸)

مولوي عبدالکريم کاکړ د راغه سلطان زی والاد علامه صاحب په باره کښې داسې وائي:

زه يم بې وفا اشنا نه يمه وفاداره

هېر مې سو صاحب عبدالعلي قاضي زمانه (۹)

د ضلع پشين تحصيل نانا صاحب مولوي عبدالخالق تارڼ د دېوبند فارغه عالم او د علامه صېب هم عصر دے، دے په خپل ديوان کښې د علامه صېب تعريف په دې ټکو کوي:

خوشحال خان که ټول پښتون په وير اخته کړ

خو عبدالعلي کړ واړه کاکړ چټ (۱۰)

يعني که خوشحال خان په خپل مرګ سره ټول پښتانه ويرجن کړل، دغسې د علامه صاحب په مرګ ټول کاکړ يتيمان شو. له دې ماسېوا نورو ډېرو شاعرانو او ليکوالانو د علامه صاحب ذکر په منظوم او منثور ليکونو کښې کړے دے، چې په هغو کښې يو د نوي عصر ډېر لوے عالم،اديب،شاعر او ليکوال مولانا محمداحمد واصل واسطي دے. د ده ګڼ شمېر کتابونه چاپ دي او يو شمېر کتابونه ئې د چاپ لاري څاري.نوموړي د علامه صاحب ذکر په دې ډول کړے دے:

پر خوشحال که د خټکو سترګې سرې وې

په عبدالعلي لېمه سو د کاکړ يخ (۱۱)

**دشاعرۍ ځانګړتياوې:**

د علامه عبدالعلي اخوندزاده اشعار ډېرې ځانګړتياوې لري، چې واړېه وار به ئې مونږ دلته ذکر کوو.

۱-تشبيهات او استعارات:

تشبيه دعلم بيان يو اهم رکن دےديوشيز دبل غونديږ ګڼل يا يو شيز د څه صفت له کبله دبل شيزپه شان ګرڅولو ته تشبيه وئيلے شي دې سره د کلام خوند,مزه اواثر زياتيږي يو فنکار د تشبيه دلارې لوستونکےپه خپله مدعا په اسانه پوهولے شي علامه صيب په خپلو شعرونو کښې ډير نادراوشوخ تشبيهات راوړي دي۔

استعاره دې ته وائي کله چې يو لفظ د خپلې حقيقي معنې په ځاي په مجازي معنې کښې داسې پکار راوستے شي چې د حقيقي اومجازي معنې تر مينځه د تشبيه تعلق وي استعارې سره په کلام کښې فصا حت او بلاغت راځي او د خيالاتو وضاحت په څر ګنده ډول کوي او دشعرد ښکلا او تا ثير سبب ګرځي۔

علامه صاحب تشبيهات او استعارات په ډير ښه انداز کارولي دي،د بېلګې په توګه :

زړه کوتر غونديږ په رېږد او په ټال کښېوت
چې د يار پر خال د زلفو په جال کښېوت
مئين خوار چي د رقيب په ګوتو ورسي
ګوا مهدي دی په فتنه د دجال کښېوت (۲۱)

علامه صاحب په دې پورتني شعرونوکښې زړه ته د کونترې سره تشبيه ورکوي، زلفي د جال،عاشق د مهدي او رقيب د دجال رنګه بولي.

بل ځائ له استعاراتو نه داسې کار اخلي:

دا د لمر رونې شغلې کړې تندر پتي
که د يار پر ښکلې مخ پر پوست غبار خط
تش ساده کاغذ جواب د ساده رو دی
خط ئې راغی لکه راغی د نګار خط
توره شپه به ئې له مخه رونه ورځ سوه
اې عبدالعلي څرنګ ونيو قرار خط (۳۱)

۲- رواني او سادګي :

د علامه صاحب کلام ډير فصيح او بليغ دے خو دې سره سره دسادګۍ,روانۍ اوبې ساختګۍ داوصافو نه هم ډك دےهم د دغه سلاست او روانۍ له کبله هر څوك دده په کلام ډير په اسانه پو هيږي او اثر پرې کوي علامه صيب دعام اولس د جذباتو تر جماني او د زړه خبره ډيره په اسانه ,پسته او خوږه ژبه کښې کوي لکه دا شعرونه :

په افسوس و په ارمان تېريږي نن شپه
په ژړا او په فغان تيريږي نن شپه

IJw-1..,i4Lo-)l'-1 .Jif;

)۴۱) ..........: ,y1-2 ..;;; i:.,l:, Loj "-: ts L>i J:;

: I J..lh. ¾ ....., L;..J .J I¥, .xi u,>;-:.J i.SJ.J-4..,;, i:.,l:.....,WI

JI J/ •JJ -5 oj.J""".,_l'-I oJj ,.,_! ).., o JI .i.:,IJ.J ....., "

I..,,;. ¾'-I lh.o .,_!..1:; Yi ,JJ u j '-I u I.ȓ I, J '-1.J l.Jt...:i I .JJ .xi..,;.

(۵۱)" ·1-2 J"-:.J

:1-2 .i.:i..,J L:.o o..,..,; c....i')L, JId IJ.J '-1-- i.:,J 1-2 .xi-)11

-5,, _J> i.r.:-J 1-2-1" o.) .l.,'..-/.if; <r C:"º ¾ l,o,)

-5_;.J1 1-2-i J '-/..,_J..,;. J-)1J 1-2 i.>

i.S iJY.?" i:.,I.J-1.J I.? &I loj

.S_;. J .i.:i i.S IJj Lo

...:ii.> .,_J ' 1-2 i:_l;.)1

(۶۱) .S_;. Jr 1-2.xilS .i.:, .,_J

¾J-!. ¾ -1-2 1-2.,,!i.? ..,;l..,d...,;.o i./.i"'% ¾............... , ۳-سوچه پښتو:

I.? .,_!1-2 1-2/'-/.i.fY 1.fY 1.;-1..,LI ¾ i:., i./.j w L. ---,;,5_; o.J.J-!, ¾'½.J

r-1 i.S)Yi .J-:.J-r..r".JU JI 'Cf. .._;..JS ....., o i.?....-)1 _} o..0u OJI .,:; i.l.J

.., l:.J/ JI .o .J-"""¾1-2 L;,o.} jo ..,_!)4'-/.'-/.-orii./..J ..,;. JJ

-1-21-2J J l'-1--ul> I ,.i.:,d;;,

:&'<J-1..,fa¾...:;f.J-4 .i.:,µ1-2/15 1;-YJ-!.L> .i--::>¾ i"'%¾o

J.J&':?'1..,J.......!¾ ..,:, .jJL-¾

(۷۱) )- OJ-!. ':?l.) li i.Sfo if"'id 1-2J li

':F--IJ...:; ..,:, ..r..:; J,J 1-2Ju...:;1.fY ..;jl5 ¾ ..,:,

i.f..iJ I..,oJjJI '-1.,_! J i.?..r.> '-f';L I J-!. i"'% w

J.JJl>..o ....., o I.?.,,! ...:; j o..,..,:, ¾ w J.:>:J I.? ¾ 1-2 JI..,..,

:J§.? ..c, J;,5__; _; d J.:JJ .;,

:'-2) 1.)-,4 1 J,.o O.JJl>_.o" J J o"t(j"

iJJI.., J ¾ 1-2 i:.,L.:...J fad';

A>....., A> J..o o.)15 ¾ l.;-'J oJj

i.2y &.)I O.JJ "JJ,dJ.J r--"'

سترګي کړه روښي په عبرت د ښه او بد کړه تميز
پخپل ژوندون مغروره مه سه دا کاروان تېرېږي

د هغه دکلام يو بل صفت دا دے چې د پښتومتلونه يې پکښې راوړي دي هم دې خصوصيت د هغه کلام خوږ او رنګين کړے دے ، بې کچه معنويت، جدت او جاذبيت ئې پکښې راوستےدے د مثال په توګه څه شعرونه دلته راوړو۔

" عمل د لاړې مل دے " رحمان بابا د شعر په چوکاټ کښې دا متل داسې بيانوي

خپل عمل د لاړي مل دی که د ښودي که د بدو
هيڅ مدد نه در رسېږي که د مور وي که د پلار

" ددنيا دوه ورځې ژوند دے " متل په شعر کښې داسې تړي۔

د دنيا دوې ورځې ژوندون تا په حرص کړی برباد
تر حسد بل بد مرض سته؟ چې ستا پر ځان تېرېږي

**۴۔غنائيت:** د علامه صاحب اشعارداسې نغمګي اوغنائيت لري چې د موسيقۍپه قالبونوکښې په آسانه ځائيد ے شي ددې نه داسې معلو مېږي چې د موسيقۍ دفن ښه استا ذ ووځکه يې شعرونوکښې مو سيقي او ترنم بې کچه موجود دے لکه يو ځاې هغه وايي چې:

خوږلی د عشق مار يم زهر می تللي به بدن کښې
طاقت مې يو ځائ نسي اور مې بل دی په مسکن کښې
خوږلی د عشق مار يم همېشه يم نا قراره
کښېنمه ولاړېږم دوري دلي تر سهاره
خوږ خوب را څخه ورک وي همېشه اوسم بېداره
عالم په ما خبر دی چې بلا مې ده په تن کښې
خوږلی د عشق مار يم روح مې ستا د مخ فدا دی
عبدالعلي سېځلی ستا د سرو لبو هوا دی
په هسې شان دلبره ستا پر دوو سترګو شېدا دی
که نوم دې خوک ور واخلي اور به واخلي په کفن کښې (۸۱)

**۵۔د فارسي او عربي ټکو استعمال:** علامه صاحب په عربۍ او فارسۍ ژبو مکمل عبور لرلو. د پښتو له سوچه ټکو سره سره ئې ډېرو ځايونوکښې په خپلو اشعارو کښې د دې ژبو ټکي ، ترکيبونه، او اصطلاحات هم راوړي دي .خو د دې استعمال سره د کلام په سلاست او روانۍ باندې څه اثر پرېوتے نه دے۔او بيا ددغه ژبو دغه ټکي ئې په داسې ډول په شعرونو کښې ځاې کړي دي چې خواږه ئې نور هم سېوا شوي دي۔ د بېلګې په توګه:

معلومېږي پر عذار د ښکلي يار خط
که نيولي د ايناره د زنګار خط (۹۱)

عذار د عربي ژبي ټکے دی او و رخسار ته وئيل کيږي، او زنګار د فارسي ژبي ټکے دی چي هغه زنګ ته وئيل کيږي چي اوسپنه يا اينداره ئې نيسي.
دا دوه نور شعرونه هم د مثال په توګه وړا ندې کوؤ:

چي د ده په ديد ژوندی دی هغه زهٔ يم
چي زما به مرګ خوشتر دب هغه دی دی
چي فغان لکه بلبل دی هغه زه يم
چي ګلرخ و سيمين بر دی هغه دی دی

**۶-فصاحت او بالغت:** په اصطلاح کښې فصاحت ځانله يو خاص علم نه دے خو چي کله په شعر و ادب کښې د جمالياتي اړخونو په لورپام کولے شي نو د فصاحت او بلاغت اصطلاحات پکارولے شي په دې کښې په کلام کښې لفظي او معنوي ښکلا کتلے اود هغې جاج اخستلے شي ځکه چې په کلام کښې فصاحت لفظي او بلاغت معنوي خوبۍ رامينځ ته کوي په کلام کښې د فصاحت او بلاغت په ذريعه د داسې ټکو انتخاب کولے شي چې په وئيلو ، اورېدلو او ليکلو کښې بد نه لګي او د اهل زبان د امروزه خبرو اترو او فطرت سره بيخي سمون خوري دا د مفهوم او معنی په اعتبار سره هم داسې ځر ګند وي چې د دې دلاړې اصل معنی ته په آسانه ورسيدے شي. که د علامه صاحب هنر ته مونږ ځير شو نو دهغه شعري فنکاري ډيره ژوره، لطيفه او خوندناکه ده کلام ئې د فصاحت و بلاغت په کالو منور دے ښکلي ټکي او بيا دهغې مناسب استعمال ، نادره تشبيهات او استعارات د هغهٔ د شعر د پيژندګلو يوه غټه وسيله ده- هغه دا هر څه په فصاحت او بلاغت سره په يوه خاصه انداززمونږ مخې ته داسې ايښودي دي چې د هغه د اوچتې پوهې او لوړ فکر يو ځلنده عکس ترې سازيږي- د بيلګې په توګه دا شعرونه راوړو:

مال و زر مي په راتلو کړه د نګار ګار
جان و دل مي ګرفتار کړ د دلدار دار
صبر و توان ئې دواړه زما کړه د ملا بند ، بند
خواب و خورک ئې زما غريب کړ دل آزار زار (۲۰)

د دې هر شعر په پاې کښې دوه داسې ټکي راغلي دي چې په وئيلو کښې خو يو رنګه دي يعني سره ورته دي ليکن مفهوم ئې جدا جدا دے، دا د يو فصيح او بليغ شاعر کاردے . دا لاندېني شعرونه هم د هغه د فصاحت او بلاغت يوه ښکلې نمونه ده چي لوستونکے يا اوريدونکے ورته ګوته په غاښ پاتې کيږي:

چي خجل ورته قمر دی هغه دی دی
چي ئې مخ روښان تر لمر دی هغه دی دی
چي د ده د سترګو خار دی هغه زه يم
چي زما نورالبصر دی هغه دی دی
چي په لړ څه پخلا کيږي هغه زه يم

چي په نه څه مرور دی هغه دی دی (۱۲)

۷- تلمیحات: شاعر چي په شعر کښې د کومې تاريخي واقعې يا پېښې ذکر وکړي دې ته تلميح وايي. د پښتو ژبي يو تکړه اديب، شاعر او ليکوال ډاکټر نصيب الله سيماب د تلميح تعريف په دې ډول کوي:

,,په ادب کښي بيا په زياته په شعر کښي د يوې واقعې و خواته په داسي الفاظو کښي اشاره کول چي هغه پوره واقعه د قاري په ذهن کښي را ژوندۍ شي تلميح وئيل کېږي.،، (۲۲)

علامه صاحب په خپل کلام کښي ډېر تلميحات راوړي دي او انداز يې دومره خوندور دے چي لوستلوسره ئې مکمله واقعه د سړي مخې ته د يو تصوير په څېر راشي.

د بېلګې په توګه يو لړ شعرونه:

د يعقوب په شان بې ړوند سمه له هجره
چي يوسف غوندي له ملکه د کنعان ولاړ (۳۲)
د يعقوب په دود که ړوند سم عجب نه ده
د يوسف غوندي زما نورالبصر ولاړ (۴۲)

ګوره څه را پېښ د غنم رنګ له عاشقۍ سي
پلار خو مي را ويوست د غنمو پر دانه (۵۲)
ګرد عالم دي زلېخا کړ په جلوه د مخ نګاره
زر يوسفه دي لوېدلي د مونډۍ زني په خال دي (۶۲)
پر سر وړمه په مزلونه، د غرو غرو په شان غمونه
فرهاد چيري وو زما غوندي خسته هسي زبون هسي (۷۲)

۸- سوز سوز د هر هغه شاعر په اشعارو کښې وي چي په خپل ژوند کښې يې تکليفونه ګاللي وي. علامه عبدالعلي اخوندزاده د لومړي سره د تکليفونو سره مخا مخ پاتې شوے دے. د ده په شاعرۍ کښې د غم جانان سره غم دوران هم ډېر ليدلےشي. د هغه په کلام کښې دومره سوزوګداز دے چې هر درد مند يې د خپل زړه اواز ګڼي که مونږ وګورو نو که يو خوا د هغه ژبه ډېره معياري خوږه او پسته ده نو بل خواکلام يې د سوزآو درد نه ډکه يوه لړزېدلې داسې سندره ده چې د هر چا په زړه لکه د ملهم لګي لکه يو ځائ داسي وايي:

سوې سينه ګرځم شونډان وچ دي زړه زهير زما
ژاړم لکه نی خېژي له خولې څه بم او زير زما (۸۲)

بل ځائ د خپل زړه دردونه څه دا رنګه بيانوي:

نه راغی جانان زما ، غوښ سو د زړه سر زما
زړه ئې کړئ سوزان زما پوخ ئې کړ ځيګر زما ( )

د خپل جانان په هجر کښي فریاد کوي،او ده ته بې جانانه چمن او بوستان هیڅ خوند نه ورکوي، دے د دې ستړي ژوند نه د پردې مرګ بهتر ګڼي، او داسي وائي:

که هر څو ځم ګلستان ته و بوستان ته وګلزار ته
پرېشان سم له دا وارو چي بد اېسي چمن بې تا
نه یم راضي له ژوندونه، چي تېرېږي پر ما باندي
مدام عبدالعلي غواړي لحد ګور وکفن زما (۰۳)

هغه بې و فاسره یاري کول یو عبث کار ګڼي او بې رحمه او سنګدل یار ته زاری کول یو بې معنا کار بولي ووائي چي:

په داسي زمانه کي چي یاري کوي عبث
یعني وځان ته لاري د خواري کوي عبث
عادت د ښائسته وو بې رحمي او سنګدلي ده
عبدالعلي و یار و ته زاري کوي عبث (۱۳)

دیار د هجران ذکر څه په دا ډول کوي:

د وروستي دیدن دولت مي روزي نه سو
نا خبر وم بېخبره په ارمان ولاړ
د یعقوب په شان بې ړوند سمه له هجره
چي یوسف غوندي له ملکه د کنعان ولاړ (۲۳)

## د شاعرۍ موضوعات:

علامه صاحب په شاعرۍ کښي هېڅ یوه موضوع هم تشنه نه ده پرې اېښې. په هره موضوع ئې طبع ازما ئي کړې ده اود هرې باغچې څخه ئې ګلان را اخستي دي .د پښتو نامور ژبپوهاند آقائې عبد الحئ حبیبي د علامه صېب د شاعرۍ اوموضوعاتو په باب داسي وایي:

,,عبدالعلي آخوندزاده یقیناً د پښتو ادب استاد وو، خورا زبردسته او مقتدر شاعر وو د ده په شعر کي لطیف معانی او زیات پاخه مضامین سته... زړه ئې د عشق په دړد دړدمن وو، با نشاطه روح او خوږمن زړه یې درلود. د پښتنو د نونهالانو یو مشفق مربي او مهربان استاذ وو.،،(۳۳)

علامه صېب په شاعري کښي بېلابېل موضوعات راوړي دي، لکه: حقیقي، تصوفي، رزمیه، ملي او مجازي، چي په وار وار به مونږ د هر یوه ذکر راوړو.

۱- علامه صاحب یو حقیقي عاشق وو. د ده د پاخه عمر شاعري که مونږ و ګورو نو اکثره حقیقي غزلې پکښې دي. په یوه غزل کښي د حقیقي عشق ذکر په دې ډول کوي.

تیاره به ولي وه زما پر خاطر؟
که مو تر میان نه وایٔ حجاب د صنم

چي توره شپه ئې سوه له مخه رڼا
سپین مخ زیاتي ترما هتاب دصنم
ځکه ئې نوم وایمه شاه خوبان
مخ په خوبانو کښي افتاب د صنم
عبدالعلي سو باندي هلته شیدا
چي نور ئې و لیدی په خواب د صنم (۴۳)

علامه صاحب ډېره ټینګه عقیده درلوده او د رسول عربي□ رېښتونی عاشق ؤ. د بېلګي په توګه دا نعتیه اشعار راوړم:

هغه څوک چي شفیع د محشر دی
پري سلام و درود د اکبر دی
د لولاک په حدیث اولین دی
د خاتم په ایت مؤخر دی (۵۳)

هغه درسول پاك دحسن صفت او د هغه د دیدن ارمان په دې ټکو کوي:

چیري یوسف د بها مال، زما دلبر چېري
مړ خراغ روښانه شغلي کوي د لمر چېري
زړۀ مي و سترګو ته راسي په تمنا د دیدار
چي مي لیمه کړي پر مخ کسي برابر چېري
په یوه دید به ئې قبول کړې که بې نه کړې قبول؟
که مي عبدالعلي درواخلي پر لاس سر چېري (۶۳)

د پورتني شعرونونه د علا مه صبب د حضورسره د بې کچه مینې خر ګندونه کېږي ځکه خو داسي وائي چي رسول عربي□ تر حضرت یوسف □ هم په حسن ښائسته دے. مخ ئې داسي نوراني دے چي لمر ورته عاجزه دے او که جانان مخامخ راته که وګوري نو زما زړه به د دیدار په تمنا سترګو لره راشي. وائي .په آخر کښي داسي وائي چي که مي چېري د سر په بدل کښي د جانان دیدن په نصیب شولابه هم خپل ځان سود مند بولم-

۲-د دنیایي ثباتي:

علامه صاحب وائي چي دا دنیا تېربدونکې ده. که څوک باچا وي که ګدا وي ،آخر به مري، هېڅو ك به دلته تل نه پاتي کېږي کامیاب هغه څوک دے چي د هغه جهان دپاره ئې توښه پیدا کړه. د لحد توري تیارې دپاره ئې رڼا ومونده. ژوند په هر چا برابر تېرېږي ، که څوک په عبادت شپه تېروي ، په هغه هم او که څوک د سحر پورې وخت خوبونه کوي ،په هغه هم تېرېږي.

غرض و مرګ ته رسېده دي پر نابوده دنیا
که څوک پر تخت د باچهي وي یا پرچول د بیدیا

غرض و مرګ ته رسېده دي په نيمګړي ژوندون
يا په رڼا د توري شپې يا په خوبو د صبا (۷۳)

علامه صاحب وائي چي په هغه جهان به هر سړے په خپل غم اخته وي. که مور وي که پلار هيڅوک به د چا مدد نه شي کولے په خپل شعر کښي دا مفهوم داسې رانغاړي:

خپل عمل د لاري مل دی که د ښودي که د بدو
هيڅ مدد نه در رسېږي که د مور وي که د پلار (۸۳)

علامه صاحب بل ځائ وائي چي مسلمانان بايد چي يو له بله سره خوابدي نهٔ شي او حسد نه وکړي ولې چي دا دنيا تېريدونکې ده او ابدي ژوند له مرګه پس شروع کېږي. ښهٔ سړی هغه دےچي خلق ئې په ښهٔ نامه يادوي .مسلمان له په هيڅ صورت کښي غرور نه دے په کار بايد چي هر سړے سترګي رونبي کړي او د بدو خلقو له انجام څخه عبرت واخلي. بيا وائي چي زهٔ هر هغه وخت راپه ياد کړم چي په غفلت کښي مي تېر کړي وي نو د پښېمانۍ اوښکي مي په ګريوان رابهېږي -

د دنيا دوې ورځي ژوندون تا په حرص کړی برباد
تر حسد بل بد مرض سته؟ چي ستا پر ځان تېرېږي
که دنيا وګڼې فاني هاله به وکړې راحت
چي پرون تېر شو نن به هم د ده په شان تېرېږي
سترګي کړه رونبي په عبرت د ښه او بد کړه تميز
پخپل ژوندون مغروره مه سه دا کاروان تېرېږي
چي زهٔ عبدالعلي را ياد کړمه تېر شوی غفلت
له ژړا شين سم اوښکي کښته پرګريوان تېرېږي (۹۳)

**۳- تصوفي اشعار:** تصوف د هغو پټوکارونو علم دے چي په زړه باندي جاري کيږي ،لکه:
اخلاص،توکل،شکراونور....دټولونفسياتي خواهشاتوپرېښودل ،دشريعت محمدي تابعداري کول، د خپل نفس تزکيه کول او د ټول امت خيرخواهي کولوته تصوف وايي. دعلامه صېب د صو فيانه کلام نه داسې معلو مېږي چي هغه د تصوف دباريکاتو نه ښه خبر ووځکه يې په اشعاروکښي دغه رڼا ځليږي- دلته مونږ دهغه, هغه اشعار راوړو چي د تصوف څرک پکښې څرګندشوے دے. علامه صاحب په تصوف کښې د وحت الوجود د نظريې قائله ؤ. دا يو شعر يې د د غه نظريې يو ښکاره مثال دے -

څاڅکی ورته وائي چي جدا سي له دريابه

ګډ چي په درياب سي بيائي نه سي امتياز(۰۴)

دتصوف بنياد په عشق ولاړدےاو علامه صاحب ځان په عشق کښي داسي مقا م ته رسولے دے چي د خپل محبو ب حقيقي معر فت په هر څه کښي ويني , لکه چي وائي :

مخ دي آئينه دی، د رب نور ور پکښي ګورم

تل مي په نظر کښي له خالقه سره راز (۱۴)

محبوب حقيقي ته رسېدل بې دنبي عليه السلام دمتابعت نه, نه شي کېدے ځکه الله ته دا رنګه خواست کوي او وائي چي :

رنځ د عشق قوام دی په فطرت د روح کښي ما لره

ځکه مي لاس واخست له علاج د طبيبانو

بل غور ئي نشته د وژلو د اور د ميني

ديد د يار روا دی په مذهب د حکيمانو

خواست کوم و تا ته يا الهالعلمينه

ګډ مي په مجلس کړې د لمر مخو د لبرانو

**۵- مجازي شاعري :** علامه صاحب مجازي شاعري هم ډېره کړې ده ، که مونږ اوګورو نو د هغه د اول دور د ځوانۍ شاعري اکثره مجازي ښه لري. هغه په خپله مجاز د حقيقت پوړۍ ګڼي. هيڅوک نه شي کولے چي بې مجازه دې حقيقت ته ورسيږي، لکه د کندهار ستر شاعر سيد عبدالخالق آغا چي وائي:

- چي په مجاز فاني في الله سي حقيقت ته به ځي

هغه کامياب سول چي کار د استاذ کل زده کوي

راځئ چي په دې لاندي غزل کښي وګورو چي علامه صاحب په دې حقله څه وائي:

پل د حقيقت دی ، بد ئي مه بولئ مجاز

ښه به ئي انجام سي که ئي بد نه کړي آغاز

مخ دي آئينه دی، د رب نور ور پکښي ګورم

تل مي په نظر کښي له خالقه سره راز (۲۴)

علامه صاحب وائي چي زه په هر شی کښي د رب نور ګورم،هر ښائسته څيز الله پيدا کړے دے. د انسانانو ښائست په مثال د ځاځکي دے او د الله ښائست په مثال د درياب دے. علامه صاحب په مجاز کښي هم ډېر له احتياطه څخه کار اخلي ، او د وفا داسي لوظ کوي چي د مرګه پس هم د ښه وضيعت خيال ساتي:

خار به نه خوري که خار بولي د مئين لاس

اغزي تل وهي د ګلو په لمن لاس

که يار ورسی د عبدالعلي پر قبر

په پوښتنه به وباسي تر کفن لاس (۳۴)

د علامه صيب په لاند ښو شعرونو کښې هم مجازي رنګ ښکاري:

مخ د يار وړر سو که ديدن مي ځي له سترګو
يار ځي له وطنه ، که وطن مي ځي له سترګو
تل کړي په خزان کښې بلبلان ژړا فغان
ګرم نه يم چې ژاړم ګلبدن مي ځي له سترګو
سترګو د دلبر کړم سودائي که وجودي سوم
درست جهان روان سي چې يو تن مي ځي له سترګو(۴۴)

په لاندي غزل کښې علامه صاحب خپل مسافر يار له تللو څخه ر اګرځوي او د خپلې مينې اظهار داسې ورته کوي:

ستا تر سترګو جار سم مه ځه مه ځه
ستا د سرو لبو نثار سم مه ځه مه ځه
بې تا نه غواړم ژوندون زما دلبره
که د درست ملک شهريار سم مه ځه مه ځه
چې سفر د هندوستان دې په خيال راوړم
زړه مي ډوب سي په کوکاره مه ځه مه ځه (۵۴)

**۶-خمريات:** علامه صاحب په خپلو اشعارو کښې د خمرياتو موضوع هم ډېره په ښه ډول کارولې ده. لوے عالم او د پښتو قد آور ليکوال مولانا عبدالقادر د علامه صيب شاعرۍ د دې موضوع ذکر داسي کوي:

,,د علامه، مولانا ،مولوي يا د ملا عبدالعلي د نوم د اورېدو سره دا خيال را پورته کيږي چې د دې شاعر د کلام غالب رنګ به خامخا څه ديني ،مذهبي او اخلاقي شان وي. ولې چې ديوان ,شاخ ګل، پرانيزي نو دا شک د سړي بالکل بل رنګ واخلي او سړی دا محسوسوي چې دا علامه د علامه او ملا نه زيات يو زبردسته رند وو.،، (۶۴)

په دې بابله د هغه څه اشعار د نمونې په توګه دلته راوړو يو ځاۍ داسي وايي:

راکه ساقي راکه د سرو لبو پيمانه
وخت د ګلو راغی د شرابو زمانه
هسي مئ پرست سوم، په هوا د يار د شونډو
ګرده شپه طواف کړم ، د خمار په ميخانه
سترګي مي پر جام دي ، د نګار پر لعلو لبو
غوږ مي پر رباب دی ، د مطرب پر ترانه
مه وايه مدهوشه، چې عبدالعلی پر هوش دی

هغه دیوانه دی چيئي بولي فرزانه (۷۴)

۷-د جعلي پیرانو ،بدعاتو او توهماتو په ضد مبارزه :

.H .J -..il j.il_} Jlj.il J I i:,I .JJJ J Jl L, A..o

i.r I-II ) .I i,)'''fJ.) J i, I; L., ...cL:; J-'.-4 l:i '-:f..J'' ........ J I .) ..I . L:.....> I. i,) .,.Y-: "I

: A.Ihif ¾ r¾i:>I o lj..u.,;.I

i:,I w oJl5 Li y,; 1 w "= ¾ dj..u.,;.I ,,

,.:..I.YJ Jl d.JY! i-r:5 o ¾ L, o lj..u.,;.I J - J:.i

.JJj.Y j.J>J-4 o 1-2-r o _"I,.:i ·< 1-.J..·.; ,J y"'[::..'•r"w.J -'':'?) L I

,u;, L, o lj ..u.,;.I - 'J Jw .,;.o J_; J.0.JJ Jl IJ

Y?i:, I 41J) ,u;, r,s'J .JJ i./'I I .t; ojJ..,:; W1-2-r

.,;. OJ'f" if ¾·("""" r,s'J.)J Sj i./'lif JJ.)J 1-2-r w -i.S i.SJ

dj..u.,;.1.i.SJY'?i.S J:.i Jli.S i.SJY?i:> I i.S J'f"'·S\r,sl..G-if"I

L,j·I;. ''-'1 1-2..uli·Lo..,I y,; .o i.J"'":J'-IJ -OJJ IJ..1.:>J L,

dl.o..L.o .J'-:?'o .o i/J i-r:5 'JJ¾ w 6 Sj<.jJ - J:.i .J l.:1

(۸۴) ..._

:L J:.i &.J I J..Ih¾faJ -½J...s'r- L,A.,o

o'r.>'l:i .J J d'' û '"

1-2 I .,;. or.JJ

'(SJ 1-2fa 1-2-1'o 1-2)

1-2 1) "-:'.I..G- if :; .J

" I J,.., J I.:.!_ ._s' .J>

1-2 I ¾ ..5,;.

i.> I..?.; .0 j.i J

(۹۴) 1-2 'J .0 J

Jl ts)..,l, J..o J;.i JJl JJ.) ¾ J.) IM¾ dj..u.,;.I <)-Jl¥- A.,o

½ ¾oJt fo o.J ¾.;w.;Jl.; -½ w LiJi:,I>J:.JJ .i,iJl

-o i.;j J;.i .)'J..Sy

د عالمه صاحب فارسي شاعري:

علامه عبدالعلي اخونزاده د پښتو سره سره په فارسۍ کښې هم شاعري کړې ده،د فار سۍ شا عر ي ئې لکه د پښتو په معيار پوره او په لوازماتو برابره ده هر رنګه موضوعا ت ئې چېړلي دي د اوچت فکر سره سره پکښې رواني بر جستګي او نور شا عرا نه هنرو نه بې کچه په نظر را خي دلته مونږ د نمو نې په توګه څه اشعار راوړو- هغه د مجازي عشق په بابله څه دا رنګه فکر لري ووائي چې :

عاشقی چیست؟ بگو بیدل وهیجان بودن غم خود

ماندن، دل در غم جانان رفتن

در جدائ

سر سودائ وصالی

پختن

در مالقات خیال غم هجران پختن الغرض

مردن عاشق زغم یار خوش است

نه که عبدالعلی یک لحظه پشیمان بودن

)۰۵(

ژباړه:

(عاشقي څه ده ؟ وايه ! لېونتوب او زړه بائيلل دي

په خپل غم اخته کېدل، زړه د يار په غم کښې تلل دي

په جدائي کښې سر د وصل په سودا کښې پوخ شي

په وصال کښې د غم هجران خيال پخېدل دي

لنډه دا چې هر عاشق په غم د يار خوښ وي

نه يو ګړی د عبدالعلي پښېمانېدل دي)

علامه صاحب د رسول صلي الله عليه وسلم صفت په دې ټکو کوي :

حور وپری فرشته ندارد جمال تو خورشید

وماه وزهره ندارد کمال تو از حوض

کوثرش نه شود سیر نزد من

آنکس که یافت قطره ز جام زالل [1]تو )۱۵(

ژباړه:

(حوره،ښاپېرۍ و فرشته نه لري جمال ستا

لمر و هلال و سپوږمۍ نه لري کمال ستا

په حوض کوثر به يې تنده ماته نه شي

هر څوک چي و مومي يو څاڅکی د زلال ستا)

د افغانستان پخوانے اولس مشرغازي امان الله خان دعلامه صاحب ډېرقدردان وو.

"په ۸۲۹۱ مېلادي کال کښې چې د افغانستان صدر غازي امان الله خان د يورپ پر اوږده دوره ووت نو علامه صاحب ئې هم تر بمبۍ پورې د ځان سره بوتلی." )۲۵(

په بمبۍ کښې علامه صېب د بې شمېره اوسېدونکو افغانانو پښتنو او د هندي مسلمانانو له خوا غازي امان الله ته يوه منظومه سپاسنامه په فارسۍ کښې وړاندې کړه چې څه اشعار ئې په دې ډول دي:

**ززبان کوه شنیدم بلسان نطق طیرے مفروش خاک**
**ملت بہ طالئے ملک غیرے بہ وطن نشستہ بر**
**جابہ ترقی اروپا**
**اگرم بپا نباشد بکنم بفکر سیرے**
**زعلوم گشت پیدا برجہان وجود اشیاء**
**زفنون شد بجیم ہمہ نورو نار و نیرے )۳۵(**

ژباړه:

( خپله دغرونو ژبه دبل ترهړول ترقي يافته او ژوري ژبې ښه ده. دخپل ملت خاوره دپرېدي هېواد په سرو زرو مه خرڅوه .تر ترقي يافته اروپا د خپل هېواد اوسېدل ښه دي .که په پښونه شي کېدلے په فکرخودوطن سيل کېدے شي.هرڅه دعلم په برکت پېژندل کېږي،او ټول هنرونه په علم پورې اړه لري.که رڼاوي که اور وي که اوبه وي ،داټول د علم په طاقت تسخيرېدلے شي.)

د هغه ددې شعرونو نه د خپلې خاورې، وطن او ژبې سره دمينې ښر ګندونه کېږي، بله دا چې د علم اهميت او برکت په لور ئې هم په خپلو شعرونو کښې په ډېر ښکلي ډول اشاره کړې ده-

علامه صاحب دختم نبوت دتحريک داعي وو اؤ دقاديانيت دفتنې په ضدېې ګامونه هم پورته کړي وو.

د قادياني مذهب د پېشوا مرز غلام احمد قادياني د فريب په باره کښې داسې وائي:

من بہ تحریر صفائی ید بیضا دارم
او کہ در ابلہ فریبی ید طولی دارد،،
آنکہ او دعوہ مہدی و مسیحا دارد
بس عالمات ز دجال ہویدارد (۴۵)

ژباړه:

) زه صفا ليک، سپين لاسونه لرم ، که څه هم د ساده ګانو دهوکه کولو والا لاس ډېر اوږده وي

او هغه د مهدي اؤ مسيحا دعوه لري. دادجال ښکاره نخښه ده (

لنډه داچې د شاعرۍ داسې ډګر نه دے پاته شوے چې علامه صاحب پرې د خپل فکر نيلے نه وي ځغلولے. هغه حقيقي او مجازي دواړه ډوله شاعري کړې ده. د حميد بابا په رنګه نازک خياله، د رحمان بابا غوندې تصوفي او د خوشحال بابا په شان جراتمندانه اشعار ئې وئيلي دي. هغه کله د خيام غوندې د مېخانو خبرې کوي او کله لکه رحمان بابا د ملنګۍ په جامه کښې ځان ځرګند کړې. کله لکه حميد د بزم خبرې کوي

او کله د خوشحال غونډي د رزم په مېدان کښې د کلام توره له پوښه و کاږي. د رسول اللهﷺ مينه ئې په شاعرئ غالبه ده او په زياتره اشعارو کښې ئې د حقيقي ميني څرک له ورايه ښکاري. علامه صاحب د يو درويش غونډي د دنيا د بې ثباتئ پلوي دے. د سوز وګداز سره سره ئې د پند ونصيحت اشعار هم وئيلي دي، او د شعر د لارې ئې د حق تبليغ کړے دے.

علامه صاحب په پښتو شاعرئ کښې يو ځانګړے حېثيت لري. د شعر ژبه ئې ډېره سوچه،ساده، روانه اوعام فهمه ده. ډېرغنايت او نغمګي لري تشبيهات او استعارات ئې هم ډېر په ښه انداز کارولي دي. هغه د تلميحاتو په مرسته د خپلو اشعارو خوند د لوستونکو او اورېدونکو د پاره يو په دوه کړے دے. فصاحت او خوش کلامي ئې د کلام بله ځانګړتيا ده. له پښتو سره سره د فارسي په شاعري کښې هم د هغه نوم تر ډېره ځايه او لرې پورې تللے دے. هم داغه وجه ده چې د مړيني ۸۷ کاله پس ئې هم په شهرت کښې هيڅ ډول کمے نه دے راغلے، بلکې زيات شوے دے. اوهر څوك ئې د خدماتو معترف دي.

## حوالې


۱-حافظ،خان محمد ،دکسپې ګلان،کوټه، بلوچستان بک ډپو، ۱۹۸۹ء، ۱۴۰۹ه،مخ۱۱۲

۲-اخوندزاده،عبدالعلي،داخوندزاده عبدالعلي ديوان، کوټه، پښتواکېډيمئ بلوچستان، ۱۹۹۲ مخ۱۳

۳-ځلاند ،ابوالخير ،دکسپې لمر، کوټه،پښتوادبي کاروان سره غوړګئ ،اپرېل ۱۹۹۵ء ،مخ۱۵۷

۴- ايضاً ،مخ۱۵۶

۵- ايضاً ،مخ۶

۶-ايضاً ، مخ ۱۸۹،۱۸۸

۷- ايضاً ،مخ۲۹۹،۳۰۰

۸-- حافظ خان محمد ،دکسپې ګلان، مخ۱۱۵

۹-- ايضاً ، مخ۱۱۵

۱۰- ايضاً،مخ۱۱۵

۱۱ واصل واسطي،دعلامه شخصيت و شاعري ، ناچاپه،مخ۱۶۴

۱۲- د عبدالعلي اخوندازاده ديوان، ۱۹۹۲ مخ:۳۵

۱۳- ايضاً،مخ:۷۷، ۷۸

۱۴- ايضاً،مخ: ۱۵۹

۱۵ ځلاند ،ابوالخير ،د کسپې لمر مخ -۱۹۸،۱۹۷

۱۶- د عبدالعلي اخوندازاده ديوان، مخ:۸۷

۱۷- ايضاً،مخ:۲۰۵

۱۸- ايضاً،مخ:۲۰۳، ۲۰۴

۹۱- ایضاً،مخ:۷۷
۰۲- ایضاً،مخ:۲۶
۱۲- ایضاً،مخ:۵۷۱
۲۲- سیماب،نصیب الله،ډاکټر،د کره کتني اصطلاحات، کوټه، پښتو اکېډمی بلوچستان ،نوے اېډیشن:۹۱۰۲ء کال،مخ:۹۴۱
۳۲- د عبدالعلي اخوندزاده دیوان، ۲۹۹۱،مخ:۴۶
۴۲- ایضاً،مخ:۵۶
۵۲- ایضاً،مخ:۲۵۱
۶۲- ایضاً،مخ:۲۹۱
۷۲-- ایضاً،مخ: ۸۶۱
۸۲- د عبدالعلي اخوندزاده دیوان، مخ۷۱
۹۲- ایضاً،مخ:۹۱
۰۳- ایضاً،مخ:۰۲
۱۳- ایضاً،مخ۱۴
۲۳- ایضاً،مخ۴۶
۳۳- خلاند ،ابوالخیر،د کسي لمر مخ -۱۹۳،۱۹۲
۴۳- د عبدالعلي اخوندزاده دیوان، مخ۹۹
۵۳- ایضاً،مخ۱۹۶
۶۳- ایضاً، مخ ۱۶۴
۷۳- ایضاً،مخ ۲۶
۸۳- ایضاً،مخ ۶۳
۹۳-ایضاً،مخ ۱۹۸، ۱۹۹
۰۴- ایضاً،مخ۶۸
۱۴- ایضاً،مخ۶۸
۲۴- ایضاً،مخ:۶۸
۳۴- ایضاً،مخ:۷۱
۴۴- ایضاً،مخ:۱۱۸
۵۴- ایضاً،مخ:۱۳۴
۶۴- خلاند ،ابوالخیر،د کسي لمر مخ۱۹۸، ۱۹۹
۷۴- د عبدالعلي اخوندزاده دیوان، مخ:۱۵۲

٨۴- درویش دراني، سر لیك مشموله د عبدالعلي اخوندزاده دیوان، ٢٩٩١ ، مخ ۴

٩۴- ځلاند ، ابوالخیر ،دکسې لمر ، مخ ٠٣۴

٠۵-ایضاً ،مخ: ٣١٢ ،۴١٢

١۵- ایضاً ،مخ: ۵١٢

٢۵ -واصل واسطي، عبدالعلي اخوندزاده شخصیت و شاعري ،ناچاپه، مخ ٠۶

٣۵-ځلاند ، ابوالخیر ځلاند ،دکسې لمر ،مخ ٢۴١- ٣۴١

۴۵-ایضاً، مخ ۵۶٣